مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان

۲۰۲۳/۰۳/۱۷

# ایمانداره غل

د پخوانیو زمانو غله هم څومره ایمانده و. یوه ورځ له بس ښکته شوم، جیب کې مې لاس ښکته کړ، ولړزېدم، پرې شوی و. خفه شوم، خو په جیب کې چندان ډېر څه نه و. ټولټال ۹ روپۍ او یو خط چې مور ته مې پکې لیکلي و: «مور جانې! زما وظیفه ختمه شوه، اوس پیسې نشم درلېږلی.» له دریو ورځو راهیسې مې خط په جیب کې و، خو پوست خانې ته مې وړلی نشو.

۹ روپۍ لاړې؛ دومره ډېرې نه وې؛ خو د چا چې وظیفې هم سر خوړلی وي د هغه لپاره ۹۰۰ نه کمې نه وې.

څو ورځې تېرې شوې، د مور یو لیک مې ترلاسه کړ. له لوستلو وړاندې مې ژوره ساه واخیسته، په زړه کې مې تېر شو چې حتماً به د کور خارچه ختمه شوې وې او پیسې به غواړي.

خط مې پرانیست، لیکلي یې و: «زویه! ستا را لېږلې ۵۰ روپۍ مې ترلاسه کړې. ته څومره خوږ یې، چې د پیسو په رالېږلو کې هیڅ کوتاهي نه کوې.»

هک پک شوم. څو ورځې په همدې سوچ کې وم چې اخیر مور ته پیسې چا ورلېږلې؟

څه وخت بعد مې مې یو بل لیک ترلاسه کړ، چې پکې لیکل شوي و:

«وروره! ستا ۹ او خپلې ۴۱ روپۍ مې سره یوځای کړې او ستا مور ته مې ور ولېږلې. هیڅ اندېښنه مه کوه. مور د ټولو یو شان وي، هغه باید وږې پاتې نشي.

ستا جیب وهونکی»

ژباړه: سمسور ودان



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ